مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالله نجات
۲۰۱۹/۰۷/۲۷

لویه تاریخي تجربه:
چې سرخوږلو اېډیالوژیکو دریځونو په ګونګه خړه کې له پامه غورځېدلي

# د افغانستان د استقلال بشپړولو د سیاسي ډیپلماتیکو هلو ځلو ننداره
# *او د قبایلو رول*

**سریزه:** د دراني تیمور شاه له مړینې وروسته معاصر افغانستان د ستر سیاسي کړکیچ په توپاني څپو کې راښکېل شو. د تاج او تخت په سر قدرت ترلاسه کولو لپاره د ده د زامنو او همدغه راز پدې خونړیو حالاتو کې د بارکزي پاینده محمدخان د زامنو حضور او تربګنیو، د خپلمنځي جګړو او وژلو په ناورین کې د هېواد راتلونکی برخلیک ډېر زیانمن او له ښکیلاکي بلوسنې او دباونو او لاسوهنو سره غاړه غړی او د ورکاوي کندې ته وروکاږه. د هند په نیمه وچه د انګریزي ښکېلاکګر برلاسي او بیا افغانستان ترپولو رامخ ته کېدل او په پای کې افغانستان پرخاوری تیری او د هېواد استقلال له منځه تلل هغه څه وو چې بستر یې کورنیو ناخوالګرو مساعد کړ. د هېواد سهیل ختیځې ډېرې سیمې چې لوی هند سره همپوله وې له لاسه ووتې او په افغانستان نیغ په نیغه دوه ځلې یرغل نه یوازې د هېواد د سیاسي کېوتون لامل شو دغه راز سیاسي - جغرافیایي سختو محدودیتونو سربېره نړی سره یې طبیعی او ازادې اړیکې پرې او د حاکمیت له اداري ووتلې. سترو ښکیلاکګرو هېوادو ترمنځ د ګټو او مستعمرو پر سر جګړو او کورنیو ننګوونکو حالاتو او دې سره جوخت استعماري ضد وېښتیا او مبارزاتي انسجام د افغانستان د استقلال دریمه جګړه رامنځ ته کړه.

افغانستان له نړېوالي جګړې وروسته او د انګریزی استعمار نړېځواک د ستوري په لوېدلو کې لومړۍ هېواد ؤ چې د استعماري کړیو د شلولو ګام یې واخیست او د استقلال جګړې په پیلولو سره یې انګریز څخه د خپلواکي ترلاسه کولو داعیه په راولپنډ کې د سولې د میز پر سر د انګریزانو مخې ته کېښوده او افغانستان یې لدې چې د انګریزانو د «هو» او یا «نه» وئیلو په تمه شي خپل استقلال یې اعلان او انګریز نه یې رسمی توګه د هغه د منلو غوښتنه وکړه. او دغه راز افغانستان نړیوالې ټولنې له لوری د هېواد د استقلال په رسمیت پېژندنې ته د خپلو هلو ځلو او د بهرني سیاست په سرلیک کې ځای ورکړ. نړیوالو ډېرو هېوادونو یې هرکلیٔ وکړ خو اصلی لوري بیا هم بریتانیا وه، چې د خپلواکۍ رسمي پېژندنې سند لاسلیکولو چارې یې ډېره موده وځنډولې او دغه بریا له سیاسی ډیپلوماتیکو سترو ستومانیو وروسته په ۱۹۲۱ کال کې یا په بله ژبه د ډیپلماتیکې مبارزې د اوږد واټنه هلو ځلو د مجادلې په ډګر کې تر لاسه شوه.

ځکه چې انګریز د سولې له اعلامېې وروسته له ناغیړیو کار اخیست او په وړاندی وروسته کېدو یې وخت تېراوه ځو هغه شرایط یا حالت رامنځ ته کړي چې د امکان په صورت کې حرکت شنډ یا شاتګ ته اړ کړي، ځکه چې رامنځ ته شوی رژیم او حالات یې خپلو ګټو او هیلو سره برابر نه بلل. نوېې سیاسي او ډیپلوماتیکو دباونو ته مخه کړه. سیمه کې د اوبو له خړوبولو نېولې تر دوه اړخیزو ډیپلوماتیکو اخوا لوبو پر لور په منحرفولو او دسیسو هم لیګا شو. خو افغانستان وتوانید په ملی یومتېتوب او همغږۍ د ډیپلوماسي اوزارو کارولو سره هم مهاله د قدرت ننداري په ښودلو سره د ډیپلوماتیکو هلو ځلو ډګر هم تود او وګټي.

**اړتیا:**

د استقلال مشران د ډیپلوماسي په ډګر کې ځنګه او ولې بریالي شول؟ دغه ډګر که څه هم ډېرو اوزارو او ملي او نړیوال لازم ملاتړ ته اړتیا لري خو همدا ترلاسه کول او کارول هغه څه دي چې په رغنده فعالو ډیپلوماتیکو، او همغږه مجادلو ترلاسه کیږي.

دا مهال چې افغانستان له کورني اړ و پیچ سربېره په تیره بیا د بهرني اړخ له پیچلتیاو سره مخامخ دی او نړیوال انارشیو ډک نظام په تاوجنو سیالیو کې ارزښتونه لا هم د ګټو او قدرت په بنسټ توجیه کیږي نو د سترو پریکړو او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

ټرونونو خبره هم د ګټې او قدرت پر مراندو ولاړ دي او ملي موخو حصول لپاره مټورو احساساتو ترڅنګ ژور پوهاوي، ګډې ژمنتیا او همغږي ته اړتیا لري کوم څه چې د استقلال د مشرانو پیلیزی فعالی ډیپلوماسی ننداری ته وړاندې کړل.

**د افغنستان ګرچاپېره حالاتو ننګوني او فرصتونه:**

د افغان او انګلیس دریمي جګړې او د راولپنډۍ د سولې له معاهدې وروسته د افغانستان د **خپلواکۍ د بشپړ تثبیتولو** او بریتانیا سره د تعلقاتو څرنګوالی مسئله ګونګه پاتې شوه. د استقلال بهرني سیاست بشپړولو ډیپلوماتیکي پروسې په بریالۍ توګه پرمخ وړلو، فعالو تعاملاتو، خوځښتونو او چټې وهلو او یوې فعالی او عقلمني ډیپلماسۍ غوره کولو ته اړتیا درلوده . او تاند راټوکیدلي نظام ته سیاسي ډیپلوماتیکو تعاملاتو له لوړو ژورو اوښتل او دولتونو ترمنځ په مناسباتو کې له پټو پیچلو تیرېدل کوم اسانه کار نه ؤ.

د افغانستان د خپلواکۍ مخکښانو چې د استقلال ترلاسه کولو لومړني ګامونه یې اخیستي وو په پام کې لرل چې خپلې هڅې ګړندۍ اود استقلال وروستي ګام بشپړ کړي نو د موجودو انګیزو او حالاتو له مخې د استقلال بشپړولو په موخه څو اړخیزه عرصه کې لاس پکار شول. د دې هر اړخیزو هلو ځلو د کار منځټکی یا محور د استقلال بشپړېدو پر محور څرخېده. د استقلال مشرانو تر ۱۹۲۱ کال پورې خپلو مجادلو کې د مجادلې په ستونځو پوه شوي او ډېر څه یې زده کړي وو. او دا پوښتنه رامنځ ته شوه چې د موخې وروستیو پړاوونو په لوبه کې سیاسي دباونو ترڅنګ د ډیپلوماتکو هلو ځلو مبارزه اغیزمنې لاروچارې، سیاسي بصیرت او هنر، ځیرتیا او پرتلنه کووونکی پوهاوي، همغږي او د مشرتابه فکري عملي یوالی او ګډو تدبیرونه ایجابوي. ستونځه د ګټو اړخونو په پام کې نیول او اصلی موخې ته رسیدو لپاره د هغوی سره غوټه کول هم وو. یاني داچې په اوږدمهال لید لوری کې د ډیورند کرښې آخوا مبارزینو د هیلو د هلو ځلو په پام کې نیول، په تېره بیا قبایلو ته پاملرنه، لنډ مهال کې د استقلال مشرتابه د سیاسي ډیلوماتیک تکل موخې او اوزار هم ګټل کېدل.

بله خوا د استقلال مشرتابه دا بلل که چېرې موکه برابره شي دا لوی امانت او ارمان ترسره او رېښتیاني کړي ځکه چې هم د دې سیمې د مسلمانانو هیلي پکې نغښتې وې او هم پدې صورت کې افغانستان به دا موکه ترلاسه کړي چې د دې اسلامې هیوادونو د اتحادیې سرلارۍ شي. او شوروی لورۍ هم دې ټکې ته متوجه ؤ. نو افغان لوري کله چې د استقلال سوبه یقیني او مخ په بشپړېدو شوه نو لازمه وګڼل شوه څو د همدې هیلو ترسره کوونکو ملاتړ وکړي. او دا اړتیا وپیژندل شوه چې د دې چاپېریال حالات څنګه د سیاسي بشپړیدا ټاکونکو مبارزو په ډګر کې خپلو اصلي هلو ځلو سره هم وتړي. نو همدې امله یې بهرني خوځښتونه او فعالیتونه خپلو سیاسي – ډیپلماتیکو تعاملاتو سره مل او پیوند کړل. او خپل استازۍ اوږدمهاله سفر لپاره نړۍ سره د آزادو اړیکو ټینګولو او په رسمیت پیژندلو په نیت ولېږه او مخامخ سیاسی ډیپلماتیکي مجادلې اړخ کې یې بین المللي او سیمه ایز چاپېریال له فرصتونو او ننګونو ګټې اخېستو سره جوخت د خپل فعال سیاست دیپلماتیکي لوبی اغیزمنتیا او هم د خپلو امکاناتو زور ننداري ته وړاندې کړل.

## څو اړخیزې هڅې او یو محوریزه فعاله ډیپلماسي

پداسی حال کې چې د هیوادونو بهرنی سیاست او ترمنځ د اړیکو تعامل شرایط، اړین اوزارو او علمی تجربوي وړتیاوې غواړي نو داسې چارو سره مخامخ کېدل چې نویو خپلواکو هېوادونو سیاسي کلتور کې مخینه ونلري افغان دولت لپاره له ګواښنو ډکه ازموینه وه چې بشپړ همغږی، سیاسي بصیرت، کره پوهې او ځیرکتیا ته یې اړتیا درلوده. افغان مشران لدې درني او له ځغم او سترړیاو ډکې تجربی سره مخامخ شول.

د استقلال لسیزې د پیلیزو تجربو پوهه افغانانو ته له ډېرو اړخونو مهمه ده او دامهال هم لدې امله اهمه ښکاري چې د هېواد د نن او پرون تړون او په نوې انداز کې تکرار په ډاګه کوي. دا پرون – د استقلال لسیزه – له ټولو ماتو ګوډو او توپیرونو سره سره د زدکړې او عبرت پاخه ټکې هم لري. استقلال جګړه وګټله خو د لوبی پای لا ښکاره نه ؤ سیاسی ډیپلماتیکه لار اغزنه او د شنډولو ننګونی یې لا پاتی وې.

نړیوالو مناسباتو او بین الملل اړیکو کې د یوه مستقل او خپلواک هېواد د سر راپورته کولو لارو چارو د زړو امپراتوریو له حالاتو او شرایطو سره بشپړ توپیر درلود. دا کړاوجن مزل د بصیرت او د زور په مټ پر لوړو ژورو تیریدل او د نوې مجادلې عملیاتی ګامونه شمیرل کیدل. انګلیس د خپلو ماتو ترخې تجربی درلودی خو انګلیس د خپلو تجربو په لوی منظر کې د افغنستان بشپړ استقلال. د آسیا په زړه کې او د لوبې لوبې په جیوستراتژیک درشل کې ځان لپاره لویه جیوپولیتیکه ماته انګیرله او دا کار انګلیس لپاره یو ناورین شمېرل کېده نو همدې امله انګلیس د اړیکو لړۍ پیچلې او او په وخت وژنې سره ځنډوله بله خوا د افغانستان حالات هم د وخت په تېرېدو سره د سترو ځواکونو ترمنځ په سیمه ایزو لانجو او اړ او پیچ کې لویدل. لدې برخلیک ټاکونکو حالاتو په بریالۍ توګه وتل او انګلیس بشپړ منلو ته اړ ویستل، د استقلال مشرانو او د امانی دولت سروالانو همغږي، یوخوله توب او یولاسه هلو ځلو ته اړتیا لرله. دلته د استقلال د هوکړې بشپړولو هغو کړنو ته پاملرنه شوې او لنډ انځور یې وړاندی شوی چې نه یوازی د دې هیواد په تېر مهال کې مخینه نشته دا مهال هم هغې ډېرې مهمې تجربیٹ زدکړو ته پاملرنه نده شوی چې البته دا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کار ډېر لاملونه لري چې تر هرڅه مخکې يو مهم هغه بې د ملی محوره دريځ ځواکونو او د هغه اصيلو سروالانو نشتون دی . دغه کار د افغان سياسي مشرانو او دولتوالو لومړی او بيساری تجربه وه او پدې توګه د خپلواکۍ مخکښان د هېواد د نوې دېپلماسي پيلامګر او مخکښان هم دي. د استقلال له اعلانولو وروسته په کابل کی انګليس لخوا د افغانستان د بشپړ پېژندنې تر لاسليکولو پورې افغانستان پر سر د سترو هيوادونو لخوا د پټو او ښکاره هلو ځلو بهير هم جاري ؤ. د افغان مشرانو د بشپړخپلواکی د هوډ ترڅنګ، روس او انګليس هم هر يوه خپله خپله موخه تعقيبوله. انګليس هڅه کوله د استقلال پروژه ماته او يا نيمګړی کړي. او يا داسی حالت هم په پام کې ؤ چې افغانان د يوه زبرځواک په پلوی د بل په وړاندی وکارول شي.

د دې سترو ځواکونو د ګټو ټکر او تضاد، سربيره پر دې چې په سيمه کې بې د ګټو نه جوړجاړی او متقابل تاوتريخوالی په ډاګه کاوه دا حالت افغان لوری لپاره هم لويه ننګونه وه او هم فرصت ګڼل کېده. د پټو معاملو بندوبست او افغانانو په وړاندې د پردې تر شا- غيابی پريکړو اټکل هم کېده. انګليس او روسيه له افغانستان سربيره دواړه په سيمه کې د خپل نفوذ د څرنګوالي انديښمن هم وو. د يادولو وړ ده چې دا مهال بين الملل نظام کی د پخوا پرتله ژور بدلونونه راغلی وو چې دلته بې د سپړنې او بحث مجال نشته. سوسياليستي روسېې د تزاری امپراتوری ځای نيولی ؤ . نوې روسيه په لنډ مهال کې يو فرصت ؤ خو دې فرصت څخه ګټه پورته کول نه وړيا وه او نه سپين سپېڅلي. د روسېې د نويو مشرانو او افغان مشرانو ترمنځ فکري تباين ژور ؤ او يو اړخيزتوب هم افغان ډيپلوماسي زيامنوله او هم بې د هيواد راتلونکي ګواښوله. خواو ته بايد وښودل شي چې خپلواک افغانستان بې په ګټه دی. افغانستان د نفوذ سيمه کېدل هم دواړو سترو ځواکونو ترمنځ د منلو نه وه او نه افغان لوري دې ته غاړه کېښوده.

افغانستان جيوپوليتيک او جيوستراتژيک لحاظه دواړو لورو ته د انديښنې او وېرې مسئله وه. لاسرسی او ساتل بې دواړو لورو ته ناشونې او مخامخ او پوله په پوله کېدل وو. کومه ضربه چې د استقلال مينه والو له خوا انګليس ته وارده شوی وه استعماري دود دستور کې لويه ګستاخي بلل کېده. او بله خوا سترو ځواکونو ترمنځ افغانستان پرسر مخامختيا افغانانو ته هم د دې موکه ورکړه څو دواړه لوري دې ته متوجه کړي او دا ورته تفهيم کړي چې دمستقل افغانستان هوکړه يوازينۍ معقوله او مسئولانه لاره ده. بله دا چې د سوسياليستی روسېې او انګليس فکر لوري يوشانی نه وو. بلشويکانو دا مهال په اسيا کې د تزاری روسيې تر واکلاندی سيمې تر خپل سياسي - ايډيالويک چتر لاندې راوستې او بلشويکې کولو هلوځلو چارې بې ورځ تر بلې ګړندی او ټينګې کړې. انقلابی سرليک لاندې بې خپلې آزانګی د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسولې او انګليس، پخوا پرتله د هند په تړاو له بلشويکانو څخه زياته وېره او انديښنه پيدا کړه. انګليس په وړاندې د اماني دولت غوڅ دريځ همدې امله هم هغوی ته د منلو نه ؤ.

روسېې انګليس په وړاندې د افغانستان له دريځه ملاتړ کاوه خو دې ملاتړ ترڅنګ، په منځنۍ آسيا کې له روسېې ضد ځواکونو څخه د افغانستان ملاتړ د بلشويکانو حساسيتونه راپارول. د افغانستان د استقلال مسئلې د هوکړی تړاو له انګليس سره ؤ او انګليس د بيلابيلو دلايلو له مخې دا موضوع شاته غورځوله. افغانستان مشرانو بيلابيل حالات هم ؤازمويل او سياسي تجربو او دباونو، فکري انډول او ځيرتيا ته ور پرانيست. څکه چې په ورته وخت کې څو خواو کې ځغاستلو د استقلال مشران په عملي توګه دې ته متوجه کړل چې انګليس سره د استقلال رسمی پېژندنې کار چې څومره جدي او ګړندی شي  افغانستان ته د يوه خپلواک هېواد په توګه شرايط برابروي او لوړ حيثيت ورکوي. بله خوا افغانستان رغونې او پرمختګ لپاره پدې پوه شو بهرنی اړخ کې برياليتوب کور د ننه چارو سنبالتيا او هغو ټولنيز – فرهنګی او اقتصادي لحاظه سختو حالاتو څخه وتلو چاری پيل ايجابوي چې هېواد ورته اړتيا لری. څکه چې که چېرې د ېواد د ټولنيز اقتصادي او فرهنګي انکشاف ته پاملرنه ونشي او مطلوب فرصتونه برابر نشی اصلي غړېشه هم ناپرانيستلې پاتي کيږي او کيدای شي نور ناوړه کړکيچونه سر را پورته او دا لړ فرصتونه او موجودې تلوسی هم له منځه يوسي.. بله داچې انګليس او شوروي هريوه د افغانستان له يوه لوري سره له دښمنې څخه ګټه اخېسته او دا تجربه عملي کيدو په حال کې وه نو افغان دولت بايد په څغم او ځيرکتيا سره شرايط پخپل ګټه بدلون ته رسولي وای. شوروي او انګليسي لوري په وړاندې د افغانستان دمشرتابه پيليزې کړنې له برياليتوب سره مل وې.

شوروي چارو سنبالوونکو ته، افغان انګليس ترمنځ مقدماتي تړون تړولو با وجود، داسې مطرح وه چې له مخې بې د شوروي سياست اصلي دنده د افغانستان او انګليس ترمنځ د جګړې بيرته پيلول وو خو دې کار بيا د فدراتيفی روسېې سوسياليتي جمهوريتونو اقتصادي او نظامي مرستو او ملاتړ ته اړتيا درلوده. لدې امله د روسېې استازي سوريتس کابل ته په رسيدو سره « افغانستان سره نظامي او سياسي اتحاد وريانت ته په کتو سره افغانانو سره په خبرو اترو پيل وکړ خو ډېر ژر بې درک کړل چې په لنډ مهال کې انګليس په وړاندې جګړې ته د افغانستان وړاندې کول شونې کار نده او د افغانستان او روسېې د اړيکو په بنسټ کې بې« د همدواړو هېوادونو د تلپاتې او ګډو ګټو ځای پر ځای کولو سره په پوځې تړون باندې ټينګار ونکړ». (١). څکه چې شوروي اوږدمهاله تګلارې درلودې او يو ټکی هم دا ؤ چې شوروي د انګليس څپلو لپاره او په سيمه کې د هغه د نفوذ راټيټولو او مخنيوی لپاره په پام کې

١ بايگانی سياست خارجی امپراتوری روسيه فوند٠٧١ای پرونده ويژه ٢پرونده ٢بوشه٢ برگ٧٠



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

لرل، افغان دولت په مشرئ د هند له مليوني ځواکونو څخه کار واخلي او نوموړي افغاني لوري سره د ميثاق تړولو لپاره له مخکي چمتو شوئ طرحه هم درلوده چي ځيني ټکي يې دادي:

۱- په هر کال کي وړيا مرستي په توګه د يومليون روبل په اندازه افغانستان سره د شوروي روسيې پوځي مرسته
۲- په جلال آباد ، کندهار او کابل کي د شوروي د کونسولګريو پرانيستل.
۳- شوروي لورئ بايد قبايلو سره د بلافصله(مستقيمو) مناسباتو حق ترلاسه کړي
۴- دواړه لوري د پُست کنوانسيون او سوداګريز تړون لاسليک کړي
۵- دواړه لوري د خيوا او بخارا استقلال په رسميت پيژني. (۲). خو کله چي د شوروي استازي د افغاني لوري له ځرګند او ښکاره ليد لوري خبر شو داچي د روس او انګليس ډيپلوماتيکو اړيکو ځرنګوالی او مهارتونه په حالاتو او چارو کي ټاکونکي وو لدې امله روسي لوري لوبه څيڅيانه توګه او په شک او ترديد سره پيل کړه پدې سوچ چي د افغاني لوري په پلويتوب کي روسيه کيدای شي انګليس سره د افغانستان په جګړه کي ښکيلتياو او کشمکش سره لاس او ګريوان شي. چيچرين په ترکستان کي د شوروي تام الاختياره استازي ته وليکل چي« مونږ افغانستان سره د اتحاد په اړه هيڅکله څه ندي وئيلي،که چيرې انګليس سره سوله وکړو دفاعي اتحاديه به مونږ له ډېر سخت وضعيت سره مخامخ کړي. (۳). افغاني لوري په تېره بيا محمود طرزي روسيې له خوا ژمني ماتولو او په ژمني او قول نه ودريدلو ته متوجه ؤ. لدې امله بې لدې چي وچي ډيپلماسئ او له زيانه ډکي وخت وژني څخه کار واخلي او د روسيې د سياستونو اجراء کولو وسيله وګرځي روسيې لورئ يې نيغ په نيغه له چلنج او وراندېز سره مخامخ کړ څو پدې وسيله انګليسي لوري ته هم پيغام وي. ځکه؛ طرزي پوهېده چي انګليس له دباو او فشار او د متو زور له پوهولو پرته د افغان دولت غوښتنو ته غاړه نږدي. حقيقت هم همداسئ ؤ ځکه چي هغه هېواد خپلي اروپايي ډيپلوماسي کي د افغان دولت له مانور څخه ګټه واخيسته ځکه چي برتانوي لوري سره ډيپلوماتيک تماس کي شوروي هيله من شوَئ ؤ» انګليس سره هوکړي ته لاسرسي چي کيدای شول شوروي ضد جبهه تر پوښښ لاندي ونيسي او له يوه بهرني تيري څخه مخنيوئ وکړي که څه هم د شوروي انګليس د خبرو اترو رسمي موخه دواړ هيوادونو ترمنځ د سوداګريز هوکړه ليک لاسليک کول وو خو بيا هم د ترتيبولو او نقد او څيړني په مهال تر ټولو زياتي ټاکونکي مسئلي سياسي مسئلي وي. دفاکتو په بڼه د شوروي په رسميت پيژندنه يو بل په وړاندې له تبليغاتو او خصمانه اقداماتو ډډه کول لدې ډلي په ختيځ کي. (٤) ځوان افغان دولت د دې لوبو دماهيت پيژندني په رڼا کي او دا چي سياست دوستي نکوي، او سياست ټاکلو موخو پر لور دچارو لاربنوني او سنبالونه ده نو خپل ټاکلي او پام وړ موخي ته او امکاناتو او فرصتونو څخه وړ او لازمي ګټي اخيستو ته زياته پاملرنه کوي، او د ډيپلوماتيکو لوبو په نفس کي يې د سياسي هنر او پوهي کارولو عاقلانه پريکون سوچ کاوه. د ۱۹۲۰ د مارچ په ۲۵ مه د شوروي ډيپلوماتيک کميسيون د ک. و . چيچرين سياسي پُست ترلاسه کړ چي په هغه کي نوموړي ټينګارکړی ؤ چي افغانستان سره راتلونکي هوکړه ليک ته نبايد دنظامی تړون رنګ ورکړل شي (۵) د افغانستان دولت دواړو شوروي او بريتانيا سره د ديپلماتيکي مبارزې په تعاملاتو کي څک ؤ او د ځيرتيا او د منطقي شک په بنا يې لاره تعقيبوله. بله خوا؛
د ډيورنډ کرښي کوزي خوا پښتنو په ډېر ځواکمن پيوستون او علايقو سربيره چي افغانستان دولت سره يې نږدې اړيکي درلودې او انګليس پدې اړيکو او د انګليس ضد په تودو احساساتو، هغه هم پداسي شرايطو کي چي د افغانستان د استقلال ټکانونو د امپراتورئ په قلمرو کي لړزا او ډار رامنځ ته کړئ ؤ او هندي مليونو لپاره لويه هيله مندي او زدکړه وه، پوهېده، د هند د آزادئ راديکال خوځښت ځينو مشرانو افغانستان ته خپلو لويو هيلو سره د ترلي لامل په سترګه کتل. خو خپلواک هېواد په توګه نوي دولت د ستونځو تجربې هم وکړې. پدې يوه شو چي په ټولو هلو ځلو کي خپل اصلي محوري موخه پام کي ونيسي او ګامونه شيميرلي او په دقيقه توګه واخلي ځکه چي استقلال ته د رسيدو ستونځمن پړاو پاتي ؤ. د تجربو په مسير کي له قدم وهلو وروسته سياسي سوچونو او فکرونو د نوي دولت سروالانو ته ټکان ورکړ.
د استقلال مشرانو ترمنځ د کار په پيل او د استقلال په اعلامولو کي ستونزه نه وه دغه ستونځي بيا وروسته له کوشنيو تر لويو هغو پورې ورسيدې. د استقلال بشپړ حصول په پړاو کي لانجي نه محسوسيدئ ځکه چي آزادي او ترقي

---

۲ -سايت فارسی رو . ترجمه اريانفر

۳ -(مرکزنګهداری وبررسی اسنادتاريخ نوين روسيه فوند ۵پرونده وييه ۱بوشه ۲۱۱۶ برګ ۴.)

٤-(تاريخ سياست خارجی شوروی ۱۹۱۷ -۱۹۷۵ زير نظر اندروه ګروميکو و بوريس پونوماريف جلد يک مسکو ۱۹۷۶ )

۵- آرشيف سياست خارجی امپراتوری روسيه فوند ۷۱ پرونده ۱۰۲ بوشه ۲۰ صفحه ۵۲


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

دمخالفت ټکي نلرل. د استقلال بشپړ حصول ټولو لپاره بی بدیل ټکی ؤ که څه هم په لارو چارو او کارولو کې اختلافونه موجود وو. لکه د بریتانیا او افغانستان ترمنځ د مذاکراتو له سره پیلولو په اړه نادرخان او طرزي جلا جلا فکرونه درلودل چې لومړی کس د مذاکراتو مخالف او د جنګ پرمخ وړلو پلوی ؤ او دویم کس په دیپلماسی باور درلود او چارو کې یې په احتیاط او واقعبینی عمل کول سم بلل . ځکه چې د جګړې دوام او پراخېداې د وړاندوینې او کنټرل وړ نه بلل. خو دې دوه ډوله توګې او روشونو له ډلیز اختلاف څخه نه بلکې د هغو فرصتونو او ننګونو د امکاناتو او لرلید څخه د ارزونو او شننو د نتیجو بیانول وو چې نااټکلي راټوکېدنې شمیرل کیدی چې هغوی پرې استدلال کاوه او د روس او انګلیس له نظره هم دغه شان انګیرنې پټې نه وې.
د فعالی ډیپلماسی کارندویي پدې کې وه څو لوری تصمیم غوره کولو او نېولو ته وهڅوي. هماغه شان چې بریتانیا له بلشویکانو او افغانستان دولت سره په لوبه کې بیلابیل کارتونه او پاڼې په څو اړخیزو لارو کې کارولې افغان دولت هم هممهاله د مانورو او چنې وهلو له دواړو تخنیکونو څخه کار اخیست.
د شوروي روسیې استازي ته د سپه سالار نادرخان نظر دا ؤ «که چیرې ستاسو د روسانو قومنداني په خراسان په برید کولو لاس پوري کړي افغانستان به له هرات څخه په برید لاس پورې کړي او په کشکا سیستان به ضربه وارده کړي او د ټولو قبایلو غورځنګ به راوخوځوي ټول قبایل د نه تمکیدونکی جګړی په انتظار توره په لاس ولاړ دي خو دا مهال هر څه په وسلې پورې تړلي دي».
افغانانو، سره پوځ او آزادو قبایلو سره یوځای، انګریزانو او د هغوی د متحدینو پرضد د نظامی عملیاتو فکر، چې د منځني او نږدې ختیځ پراخه او لویه برخه یې له لومړی نړیوالی جګړی وروسته په لاس کې وه، دغه شان پاللی او زړه ته سپارلئ ؤ او پدی هم پوهېدل چې بریتانیا هم همداسې سوچ کوې او پدې کار پوهېدلی دي او مانا یې دا وه چې که بریتانیا د افغانستان د خپلواکۍ غوښتنې ته لبیک و نه وایي منزل ته رسیدو لپاره نورې لارې چارې هم شته او کاریدلی شي. لدې سربیره سوریتس اعلام کړل چې کابل چمتو دی په هند کې له انقلابی غورځنګ او د هند او افغانستان د پولې په اوږدو کې د انګریزانو ضد د پټو نظامي عملیاتو ملاتړ وکړي.
د افغان دولت مشران، لدې ډلې طرزي او نادرخان د سترو دولتونو له رنګونو او نیرنګونو څخه ناخبره نه وو دواړه پوهېدل چې د دې سترو دولتو ترجیحات او ژوری موخې څه دي؟ د هند د نیمی وچې حالات هغه شان وو چې افغانستان دولت په څو اړخیزه توګه خپلو موخو سره په تړاو کې هلته ډېر فرصتونه درلودل. هم پخپله د نیم قاری ویښتیا او هلته د آزادی انګازو خپریدل، بله خوا افغانستان باندې د دې خوځښت باور او، افغانستان سره د هند د مسلمانانو ژوره خواخوږي او اعتماد او تر هر څه د مخه او د پښتون بلوچ همښنی لاسرسی، د باور وړ ستر او ځواکمن تیارسی او د امر وو هدایت شیبی یې تیرولې. افغان دولت د هغوی په ټینګ ملاتړ باور درلود . افغانستان دولت د مقابل لوري کمزوری اړخ (د آشیل پونده) پیژندلی ؤ. نو همدې له امله یې د دیپلماسی په ډګر کې دغه«بلاخېره» اوچتوله او پټولو ته یې هم پروا او اړتیا هم نه درلوده. لکه څنګه چې د افغانستان حکومت د انګریز د ډیپلوماسی پایلې او اغیزی درکولی او په پام کې نېولې همدغه شان یې شوروي سره د ډیپلماسی پدې ډګر کې پخپلو ځواکمنتیاو ډډه لګوله او لوری یې پدې پوهاوه چې افغانان د حالاتو څارنه او پرتلنه کوي نو پکار ده چې د افغانانو د منافعو درناوی او مراعاتول له پامه ونه غورځول شي. د افغانانو ډیپلوماسی منفعلانه او منقادانه عمل نه کاوه او لوري یې پدې پوهول چې که د افغانانو ګټې او د استقلال درناوی ونشي هر څه پیښېدَی شي. انګلیس او روسېې دواړو لورو په وړاندې د فزیکې او ډیپلوماتیک حضور ننداره د افغانستان د یوه فوق العاده تاریخي ستراتژیک سمبولیک تحرک بیلګه هم ده چې په سیمه کې او هغه هم د دوو زبرځواکونو سیاسي لوبې ترمنځ په پراته ډګر کې ښودل کیږي. افغان دولت چې هممهاله توګه دوو ځواکمنو په وړاندې لوبه پرمخ وړي او په ورته وخت کې مخې ته د اړتیاو او ضرورتونو ترڅنګ ننګونې هم پرتې دي. نو همدې لامله پدې خاطر چې دواړو خوا سره د ډیپلماتیکو چنو وهلو بنډار کې خپل هوډ ځواکمن وښیي او لوري پدې پوه کړي چې دفع الوخت د نابېره کړکیچونو لامل کېدی شي نو د هغوی پوهولو په نیت د قبایلو جرګې رابللو تابیا کوي او دخپل هوډ وجودي واقعیت او توان ننداري ته وړاندی کوي.
د جرګې رابلونکو دغه ناسته نندارېزه هم نه وه ځکه چې نه یوازې علایق موجود وو بلکې د هغوی اړیکې او افغانستان سره تړون د هغوی د ټولو هیلو اصلی موخه او سرمنزل بلل کیده او بله دا چې هغوی په ریښتیا هم افغان دولت له خوا یوه ساده اعلان ته انتظار درلود او انګریز پدې ټکې تر هر چا ښه پوهېده. په هر ترتیب د سیاسي او ډیپلماتیک ډګر چارلېون د افغان مشرانو هوشیاري او ځیرکتوب او افغانستان په پلویتوب د قبایلو لېوالتیا او پیوستون په ډاګه کاوه او په سیمه ایزو مناسباتو کې یې د هغوی علایق، فعال او آزاد حضور او رول باندې د تایید ګوته لګوله.
دا مهال؛ که څه هم د سیمې په جاري لوبو کې ډېرو نورو مواردو په شان په سیمه کې د قبایلو رول او موقعیت کږون موندلای او لوبه چپه ښکاري چې دا د جلا بحث غوښتنه کوي خو سره له ټولو ماتو ګوډو هغه مهال قبایلو یولاسه او غوڅ دریځ درلود او د افغان دولت د دریځ ملتیا یې کوله او د استقلال جګړی په سوبو کې یې لوی لاس او غوڅ رول درلود او همدې غوشن خپلویتوب د دې ډیپلماتیک - سیاسی تعاملاتو په لوبه کې د دولت موقعیت ریښتونی او ځواکمن کړ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د کرښې آخوا قبایلو د استازو په حضور د اپریل په میاشت کې کابل کې دربار له خوا غونډه دایره شوه. امیر امان الله خپلو مخکینیو ویناو سره په څه توپیر کې د شوروی روسیې په اړه په خورا نرمه ژبه خبرې وکړې او حاضرینو ته یې ورانديز وکړ څو بلشویکانو څرګندونو سره له احتیاط او هوښیاری څخه کار واخلي او هم مهاله یې قبایل دې ته راوبلل څو یوې مودې لپاره انګلیسی سپاهیانو سره له جګړې لاس په سر شي(٦).

دلته انګریزي سپاهیانو سره د جګړې ودرولو د سپارښتنې په څرنګوالی بحث نه کوو ځکه چې انګلیس سره د ډیپلماسی او سیاسي پړاو په ډګر کې د اماني نوي دولت د ستونځو او مجبوریتونو څنګه والی، او هغه داچې دواړو دولتونو ترمنځ مثبتو انکشافاتو لپاره یې خپل ښه نیت څرګند کړی وي، د پوهېدو وړ دی. ځکه په هغه ډول چې ځیرونکې او شنونکې ورته اشاره کوي د افغانستان استقلال لومړی او اساسي موخه وه او د افغانانو پخه اراده او ټینګ هوډ د دې غوښتنې ملاتړ ول. دا کار اړین او عاجل خو ترلاسه کیدلو وړتیا یې موجوده وه. دې لومړنې ګام نورو ګامونو اوچتولو لپاره لاره پرانیسته او مستقل او برابرو حقونو درلودونکې هېواد په توګه یې افغانستان لپاره په نړیواله او د سیمې په کچه ښه فرصتونه او امکانات برابرول. پدې توګه افغانستان کولای شول په رڼا کې نور ګامونو د اخیستو چمتوالی ونیسي. د استقلال ګام اخیستل شوی ؤ خو د آزادي د ګوربت پښې لا هم د ډیپلوماسی په جال کې بندې وې. اړینه وه د دې جال له نازکو خو حساسو تارونو څخه، په ټول پام او د قدرت نندارې ته وړاندې کولوسره، سختې او پښېمانې په هممهال توګه د مقابل لوری پښو مخې ته کېښودل شي او د مستقل او آزاد هېواد نړیوال حقوق او حقه حق د سوبې په کرسی کښېنې. د اګست په دریمه په کابل کې جرګه جوړه شوه چې له درو سوو زیاتو مشرانو او د قبایلو استازو د راپور اوریدلو لپاره په هغې کې ګډون درلود. خپلې وینا په ترڅ کې شاه امان الله د بهرنې سیاست له لاسه ورکولو په بدل کې د انګریزانو ژمنه حاضرینو ته تشریح کړه او د هېواد د خپلواکۍ په خاطر یې خپله غوښته پریکړه او پرېکنده دریځ اعلان کړ او همدې ترڅ کې یې بلاعوضه مرستې په اړه د روسیې وړانديز هم مجلس ته وړاندې کړ.

سیاسي – ډیپلوماتیکې مانورې اغیزمنې وې. حقیقت دا ؤ چې دواړو ستروځواکونو د سیمې په جیوپولیتیک او جیوستراتژیک کې د افغانستان لوری په موقعیت او رول پوهېدل. حایل هغوی لپاره وروستی او اړین تصمیم او حلاره وه. خو دا مهال د «حایل» له څرنګوالي داډ تر لاسه کول یو بل مهم ؤ ځکه دې حایلتوب هیڅ راز شرط او قید نه مانه بلکې د یوه مسلم او خپلواک واقعیت په توګه د هغه منل اساسي ټکی ؤ چې دواړو سترو ځواکو وربانديي لوبه جاري ساتلې وه. دلته هم د افغانستان جیوپولیتیک او ستراتژیک موقعیت او د هغه دریځ او هم د دواړو سترو ځواکونو ترمنځ د اړیکو نا پخلاینونکې حالت دواړو رول درلود. افغاني لوري خپل دریځ د خواو لوبې ترمنځ یو داسی حالت انځور کړی ؤ چې له ترلتیا خوندي دریځ یې په پای کې واقعیت وموند.

افغانانو شوروي لوري څخه عملي تضمینونه وغوښتل او په غوږ ووهل شو چې انګلیس شوروي په وړاندې هرډول امتیازونو ورکولو ته تیار دی کوم څه چې د شوروي په توان کې نه وو. او روسیه یې غوښتنو کې د زیاتي په خطر پوهه کړه. انګلیس چې مالي او ټیکنالوژیک توان درلود شوروي لوري سره د اړیکو د پریکولو په شرط د افغانستان استقلال رسمیت پیژندنې او مالي تخنیکي مرستې کولو ته حاضر شو. خو افغانستان دا مهال د سیاست لدې اړخ سره اشنا ؤ او له شرط او اړونو سره د استقلال ترلو په زیان او خطر پوهېده. نو افغان مشرانو خطری څخه د ژغورنې ډاډ ترلاسه کولو په خاطرد ډیورند کرښې ترڅنګ د روسیې د قونسولګریو د نه پرانیستې شین څراغ، په هغه ځواب کې چې شوروي لوري ته یې ورکړی ؤ انګریزانو ته د خپلې روغ نیتې او خپلواک چلن د بیلګې په توګه وځلاوه.

د دې لوبو د راکړې ورکړې چنې وهلو په سړو تودو کې افغانستان خپلو پام وړ موخو ته رسیدو کې ګامونه اخیستل.

د۱۹۲۱ د جولای په شپاړسمه ف . و راسکلنیکف د شوروي نوی سیاسي استازی کابل ته راغئ او ډېر ژر یې احساس کړل چې حالات ناکراره دي او افغانستان باندې اغیز اچولو پر سر د سترو ځواکونو مبارزه د ده دخپل اعتراف په اساس « زمونږ په ګټه د څرخ تاوېدل ګواښي». (۷)

ده لنین ته وکښل:« داسې ښکاري چې د انګلیسانو اغیزمنتیا د بریتانیا د متحده شاهي دولت د پریمانه شتمنیو په ټینګ او پاخه ملاتړ سره، د شوروي ډیپلماسي، چې خپل شاته له خرخشو او غرغرو ډک انګلیسی ضد انقلابي خاورو دوړو او له ډېرو محدودو پوځي مرستو« کمځواکه » او تشوژمنو وعدو پرته کومه بله تکیه ګاه او ملاتړ نلري، پښه پرځای درولې ده».(۸)

ځکه چې د انګلیس استازي جنرال ډابس افغاني لوري ته ژمنه سپارلې وه که چېرې افغانستان شوروي روسیې سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې پرې او شندې کړې او کابل څخه د شوروي سفارت وباسي او انګلیسي استازو ته اجازه ورکړي له خنډ ځنډ پرته د افغانستان خاورې له لارې شوروي ضد کړنو ترسر کولو لپاره منځنی اسیا ته تګ راتګ

---

٦- مرکز نګهداری و بررسی اسناد تاریخ نوین روسیه صندوق پنج ویژه ۱ بوشه ۲۱۷۹ صفحه ۱۲٦

۷- مرکز نګهداری وبررسی اسناد.......صندوق ٥ صفحه ۱.)

۸- بابا خواجه یف ،"شکست سیاست ضد شوروی انګلیس درآسیای میانه ودر خاور میانه در دوره شناسایی دو فکتو و دژوری دولت شوروی در سالهای ۱۹۲۱-۲٤تاشکند ۱۹٥۷ ص ۷۳-۷٤.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وکړي د افغانستان استقلال به په رسمیت وپيژني.(۹) (هغه څه چې دا مهال د پاکستان دولت د افغانستان په جاري کړکیچ کې منځنۍ آسیا سره پوله په پوله کېدو په تمه د هند او افغانستان ترمنځ په مناسباتو کې د هغه د پرلپسې لاسوهنو هیلې په ډاګه کوي) . او پدې توګه شوروي سره د تړون تصویبولو لپاره زمینه برابره شوه او اسکلیکف او سوریتس د ۱۹۲۱ د اګسټ په ۱ نېټه په پغمان کې شاه امان الله سره لېدنې لپاره راوبلل شول.
شاه امان الله د شوروي له استازو څخه د څو سوداګریزو او ترانزیتی تسهیلاتو د قراردادونو په تړاو لیکلې ژمنې واخیستې. بیا وروسته شاه امان الله دربار راوباله او بزرګانو او مشرانو سره خبرو اترو په ترڅ کې یې څرګنده کړه: « حاضر دَی هېواد د نویو وژونکو جګړو په ډګر بدل کړي د دې ځای چې بهرنیو اړیکو باندې د پردیو کنټرول ته غاړه کیږدي» او شوروي لوري سره په تړون کې يې د بلا قید او شرط او وړیا مرستو یادونه هم وکړه. پدې ډول افغانستان، د یوه شعوري، فعال او شفافه سیاست په چاپېریال کې، خپل طلب لاسرسي پیدا کړه.
په متقابلو وجایبو سره د یوه د آزادو او برابرو حقونو لرونکي هېواد د کاملته الوداده حقونو استقلال پروسې په نړۍ کې سر راپورته کړ.
پاسنیو حقایقو بهیر په اړه یو شمېر لویدیځ مبصرین لدې ډلې د شوروي پوهان ځانګړې ارزونه پدې توګه کوي چې: افغانستان انګلیس پرتله د روسیې«شر» ته ترجیح ورکړه څو د هېواد خپلواکي وساتل شي. حال دا چې دلته شوروي سره د مناسباتو د ترجیحاتو مسئله عمده تکی نده او اصلي ځای نلري. دا استدلال بشپړ او پوره نښکاري چې له مخې یې دغه شان ترجیحات ثابت کړو هغه هم پدې دلیل چې«له وړیا مرستو پرته، شوروي هند سره په پوله کې د قونسولګرۍ له پرانیستلو څخه د شوروي لوري تېرېدنې د افغانانو وېره راښکته کړه». بیلابیل لاملونه د وېرې راښکته کېدو لپاره موجود وو او له همدې مطالبې د روسیې لوري تېرېدنه هم تر ډېره بریده په سیمه کې حضور او په افغانستان کې د انګلیس له لاسبري څخه د روسیې له وېرې سرچینه اخیسته. د روسیې د وېرې فکتور افغانانو ته د فشار راوړلو یو ابزار شو حال داچې دې اوزار هیڅ اړینتوب نه درلود او افغان واکمن د دې مطالبې په بیځایتوب پوهېدل. ترجیحاتو مسئله تر ډېره له سیمه ایز او نړیوال چاپېریال سره تړلې وه. او افغانانو دا اراده هم نه درلوده چا ته د چا په اړه ترجیح ورکړي. شوروی سره د افغانانو د اړیکو غځېدنه او پرمختیا لویدیځ په وړاندې د افغان لوري له مخکې مل شوی فرضیې څخه سرچینه نه اخلي. او د سړې جګړې د ستراتژیکو سیمه ایزو لوبو تربګنیو افغانستان په وړاندې هماغه لاره غوره کړه چې انګلیس د استقلال پېژندنې په شرط او شروطو کې ځای ورکړی ؤ او دا مهال هم د د ورته تېرو تورو تیارو د ناغیریو سیوری تر سترګو کیږي.
استقلال افغانانو ته سربېره له سیاسي سوبې، راتلونکو هلو ځلو لپاره او په نړیوال ډګر کې د خپلواک او برابرو حقونو د یوه واک لرونکي هېواد په توګه د مقدمې اهمیت هم درلود. دا مهال کوم څه د هند او پاکستان په نوم د اوسنی غربيشې په توګه نه وو موجود. نو همدې لامله ده که چېرې هند څخه له وتلو وروسته جوړه شوی سیمه ایزه غړیشه او میراث په پام کې ونیول شي ترجیحاتو ته توجیه پیدا کیږي.
په هر صورت، دا چې د مشرانو او مخورو په جرګه کې « له ۲۷۰ کسانو څخه ۲۶۴ کسانو د افغان شوروي تړون په ګټه او د بریتانیا سره د تړون کولو په ضد رایه ورکړه. او سندونه په رسمي ډول مبادله شول »(۱۰) ترجیحات اصلي توګه خپلواکی او د افغانانو ملي حاکمیت تثبیتولو ته متوجه وو هغه څه چې د دې تړون د یوې مهمې وسیلې ګرځولو له مخې پدې لاره کې ګام پورته شو. د افغان شوروی دا عمل اغیزمن ؤ او انګلیس لوري هم وار د واره افغانانو له لوري د ترتیب شویو شرایطو په پام کې ساتلو سره، لویو غوښتنو څخه په تېریدو سره، چمتووالی اعلام کړ. تړون د ۱۹۲۱ د نوامبر په ۲۲ مه نېټه افغان انګلیس د افغانستان استقلال تایید کړ او د دواړو لورو استازولی (نمایندګي) یې ومنلې.(۱۱) او «د راسګلیکف» خبره سمه او پر ځای ده چې افغانستان د دواړو دولتونو ترمنځ با ثباته موازنه جوړه کړه او د هغوی ترمنځ یې د اړیکو اړو پېچ او په کوږ ووږ ساتلو سره له دواړو لورو څخه ممکنه ګټه تر لاسه کړه. کوم څه چې دا مهال د لوبې لوبې او رسوا مداخلو په کونګه خړه او اړوپېچ کې له ملي ګټو سره د تړلي او پیچلي ماشورې په جر تار کې د فعال او هڅان دریځ د فن او مهارت هغه څرک نه لېدل کیږي څه چې هېوادنی مینه، ملي ګټې همغږي او یو موټیتوب یې مراندي جوړوي.

۹ - مرکز نگهداری فوند -۵- پرونده ویژه ۱- بوشه ۲۱۲۸ صفحات ۸-۱۱.
۱۰- روزنامه پراودا تاریخ -۶ -۹ -۱۹۲۱ گزارش سالیانه کمیساریا خلق در امور خارجی به نهمین کنگره شورا ها مسکو ۱۹۲۱ ص۱۲۰
۱۱ -(مرکز نگهداری ... فوند ۵ خا ص۱- بوشه ۲۱۲۸ صفحه ۲)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ